# پناه د مجارستان په سرحد کې

تاسي د مجارستان یا هنګري هیواد په سرحد کي یاست،او د دي هیواډ رسمي ژبه مجاري ده. مجارستان د اروپایي تولنې غړې او په مرکزېې ختیز اروپاه کي پروت هیواډ ده . د پنا اخیستلو د جریان په وخت کښي تاسي خپل مورني ژبه استعمالولي شي .

له 2015 کال 15 تاریخ نه ،له پناغوښتونکونه د نوي قانون سره چلند کیږی،د هنګری هیواډ او صربیا هیواد سرحدونه تړلي دي،په سرحدکي دوه ترانزیتی ځایونه جور شوي ده(روسکه،او تومپن) چه تاسي کولای شي د مجارستان هیوا د دننه راشی،او خپل دپناه غوښتنلیک هلته ورکري.که چیری تاسي له صربیا هیواډ نه په دغو دوه ترانزیتي ځایونه ځان ثبت ونه وکي او له تړل شوي لاري نه ځان ورسوي هنګري هیواډ ته،نو د نوي قانون پر بنسست تاسي جرم کړی یاست،اومجرم بلل کیږی.او پولیس تاسوته بیرته صربیا هیواډ ته واستوی،اوکه تاسی له سرحد نه تر 8 کیلومتر د ننه ونیول شي بیا هم بیرته د یپورت ګیږی،که چیري تاسي له سرحد نه له 8 کیلومتر نه لري پولیس ونیوله نو تاسي کولای شي چي دخپل د پناه غوښتنلیک را وسپاري.

## ننوتل په ترانزیتي ځایونوکي

که چیری تاسی له ترانزیتی زون له لاري نه خان ورسوي،لمړي د پولیسو لخوا تاسی تلاشی او وروسته ستاسی نوم او شهرت لیکوي

(ستاسی نوم اود کورني غړي نه پوښتنه کوي بیا د ګوتی نښې نیسي)په دي وخت پولیس پوښتنه کوي چه آیا تاسي له مجارستان هیواډ نه پناه غواړي،که چیری ستاسي ځواب بلي وه،په دي وخت دکدوالوامورو اداري په یو کانتینرکي له تاسونه انتریو اخلي.

هغه کورني چه ماشومانوسره او یا هغه خلک چه د ځانګري اړتیا وړ وي،په همدغه وخت چی رسیږي د راتګ په ورځ یو کمپ ته لیګدول کیږي.په مجارستان هیواډ کي میړه/میرمني او/ستاسو کوچنیان د کورني معنا لري.دهغو کورنیو غړو چه عمر یي له 18 کال نه جګ وي،باید جلا د پنا غوښتنلیک وړاندې کړي.خو کورني دا حق لري چه په ګده پاتی وسي،که چیري تاسي کوم سند د اړیکو ثبوت لري باید راکړي.

د ځانګرو ارتیاوو خلک سره لکه امیدواره ښځه یا معلولیت یا خطرناک ناروغي یا د شکنجي او تیړي له عمله چه روحي او رواني حالات ستونزه ولري،که چیري دا ځانګرو اړتیاوو د لیدلو وړ نه وي نو باید تاسي پولیس او د کدوالوامورو اداري ته ووایيي،او یا کوم سند یا ثبوت لري باید چاروا‌ک ته راوسپاري.

بی سرپرست ماشومانو چه له 18 کال نه عمر یی کم وی د ماشومانو هستوګنځی آزاد ځایته انتقالیږی.که تاسي له 18 کال نه کم عمر ولری،هغه وخت چه پولیس ستاسو نوم او شهرت لیکوی باید ژر تر ژره ووایي چه دا ولیکی ځینی وخت دا کیدای شی چه ستاسی په اصلی عمر باندی شک او تردید ولری نو تا داکتر معاینه کوی په همغه ترانزیتي ځایوکی،معاینات دپاره تاسي پیسي نه ورکوی،که تاسو داکتر سره موافق نه یاست نو تاسی کولای شی چه عریضي وړکړي دویمه آزموینه دپاره او امضاٴ وکی،که چیری مرستي ته اړتیاٴ ولری،په دی هکله د مجارستان د هلسنکی کمیتي تاسی سره حقوقی مرسته کوی،که داسی کوم اسناد ولری چه ستاسو عمر تصدیق وکی باید وښایي.

## په سرحد کی د پناه غوښتني کرنلاره



د کدوالوامورو اداری بیا له تاسی انتریو اخلي،چه باید تاسی ووایاست چه په خپل ملک باندی څه ستونزه درلوده او ولی راغلي یي.دا هم باید ووایي چه له هنګری نه مخکی په کوم بل هیواډونه پناه غوښتلي لکه صربستان،کرواشیا،یونان او بلغاریا .دا مهمه ده چه تاسي په مفصل توګه توضیع ورکړي،دا هم کیدای شی چه ناوړه،او دردناک قصي وي،ترجمان لري.باید و نه شرمیږي او که چیري د ترجمان په خبرو ونه پوهیږي باید ووایي،د انتریو په پاي کي ترجمان دا هغه څه چي تاسو وویل باید تاسوته ولولي که دا کار ونه شوْ تاسي باید له ترجمان نه راوغواړي،او که چیری د کدوالو ادارهْ مامور هغه څه چه تاسو وویل په ځایی بل رقم لیکلي وه، نو باید تاسی ووایاست چه اصلاحي وکي،یو نقل له انتریونه وغواړي ځانته،ترجمان او د کډوالو ادارهْ مامور ستاسو رازونه پټ ساتي تاسی کولای شی صادقانه خبري وکړي.



که چیرته په یو اروپایي هیوادکې له تاسو نه دګوتې نښې ونیوله،نو تاسوته بیرته همغه هیواد ته واستوي. بیا وروسته ستاسو د غوښتنلیک عریضې په دې هیواد کې بررسي کیږي.دیته وایي د دوبلین کړنلاره.که تاسو په دې حالات کې یاست،د کډوالو اداري دفتر همغه هیواد سره اړیکي نیسي چه ستاسو کیس په غاړه لري. په دې هکله تاسو فیصلي وروسته ترلاسه وکي . دا هیواد د څو میاشتي نه وروسته ځواب ورکوي،مګر تاسی ته په ترانزیټ زون باندی یوازي 28 ورځو دپاره ځاي ورکول کیږي.

د دوبلین سیستم له مخې تاسی کولای شي چه دخپل د کورني یو ځای کیدو غوښتنه وکړي لکه دخپل ښځه/خاوند او یا دخپل کم عمراو نا واده شوی ماشومانو سره یو ځاي وشي،او یا که تاسو ماشوم یاست،د مور پلار او نورو خپلوانو سره چه په یو بل اروپایي هیواد کې هوسیږي یوځای کیدای شي.که تاسو غواړي چه دخپل د کورني سره یوځایي وشي نو باید د انتریو په وخت کی چاروک ته ووایي .

که چیرې تاسي په بل اروپایي غري هیواد کې د ګوتې نښې و نلري،نو دکډوالو اداری له تاسو نه پوښتنه کوي چه له کوم بل هیواد نه پناه غوښتلې یاست،یا د دریم امن هیواد له لاري نه مجارستان ته راغلي یاست.مجارستان صربیا هیواد ته دریم امن هیواد وایي،یو داسی هیواد چه له کډوالونه حفاظت اوساتنه کوي.دقانون له مخی،هغه کسان چه له صربیا لاري نه راځي ، هنګري هیواد تر ساتني لاندې ني نیسي.ځکه تاسو باید په صربیا هیواد کې د خپل د پناه غوغتنلیک وړاندی کړي وي.

که تاسي نه غواړي چه بیرته صربیا ته واستوي،نو باید تاسي په انتریو وخت کښي ووایاست چې ولي صربیا هیواد له تاسونه ساتنه یا حفاظت نشي کولای،او باید داهم ووایي چه هلته څنګه وه شرایط.له انتریو نه وروسته تاسي په 3 ورځو، ستاسو په مورني ژبه،ولیکي او لاسلیک وکي او د کډوالو امورو اداریته راوسپاري،او چاروک( 8 ) ورځی لري چه پریکړه وکړي.




که چیري دکډوالو امورو اداري ستاسو د پناه غوښتني عریضي رد وکي،تاسو کولاي شي د 7 ورځو په موده باندې محکمیته مراجعه وکړي،تاسو د یو شخصي انتریو غوښتنه کولاي شي.نو باید تاسودا ولیکي او روښانه تشریح ورکړی چه ولي فیصلي سره موافق نه یي.که چیري په دي هکله مرستي ته اړتیا ولري له مجار هلسنکي کمیتي وکیلان اویا له ملګرو ملتو مامورینو نه غوښتلاي شي.که چیري محکمي د کدوالوامور اداري فیصلي سره موافق وي او ستاسود استیناف غوښتنلیک رد وکي،نو باید تاسو د نوي پناه غوښتنلیک ورکړي،له دینه بغیر تاسوته بیرته صربیا هیواد ته استوي.

### موجوده مرستي او خدمتونه په ترانزیت زونو کي

که تاسو په ترانزیتي زون کي پاتي شي،تاسوته یو بستر او هره ورځ دودي ورکول کیږي،که چیري روغتیایي ستونزه ولري لطفاْ داکترسره تماس ونیسي،هره ورځ دسوسیال مامورین شتون لري،که وکیل ته ارتیا ولري ،همدا رنګه تاسو کولاي شي د مجارستان هلسنکي کمیتي سره تماس ونیسي،په وړیاتوګه تاسوته مرسته کوي،تاسو د ملګرو ملتو مامورینو سره هم کولاي شي چه خبره وکړي دوي هره ورځ له ترانزیت ځایونونه لیدنه کوي،په ترانزیت ځایوکی تاسو صرف تر 28 ورځی دپاره پاتیکیداي شي،که تاسوته له ترانزیتي ځایونه په آزاد کمپ او یا بندي کمپ ته واستوي،باید تاسود مجار هلسنکي کمیتي چاپ شوي طرزالعمل یا معلومات راوموندي،چه دخپل حقوقونه باخبر وسي.

## لاندي نقشه تاسو ښیي چه په مجارستان هیواد کي کوم ځاي آزاد او په کوم ځاي بندي کمپ شتون لري .




1 Fót Children's Home
2 Vámosszabadi Open Refugee Centre
3 Balassagyarmat Community Shelter
4 Budapest Airport Immigration Detention Centre
5 Győr Immigration Detention Centre
6 Nyírbátor Immigration Detention Centre
7 Nyírbátor Asylum Detention Centre
8 Békéscsaba Asylum Detention Centre
9 Kiskunhalas Immigration Detention Centre
10 Kiskunhalas Asylum Detention Centre
10 Kiskunhalas Open Refugee Centre
12 Szeged Border Police
13 Körmend Open Refugee Centre
14 Röszke Transit Zone
15 Tompa Transit Zone
16 Letenye Transit Zone
17 Beremend Transit Zone